زلمی کرزی ۲۰۱۷/۰۲/۱۱

# د ویښ زلمیانو په سیاسي تحریک کښي
# د اروا ښاد آغا محمد کرزي فعاله ونډه


*اروا ښاد آغا محمد کرزی*

آغا محمد د حاجی اختر محمد خان پوپلزی (سمیلزی) زوی د مځکوال عبدالحکیم خان لمسی د تاج محمد خان کړوسی او د حاجی دارا خان کوسی په ۱۳۰۲ ش کال د کندهار په کرز کي چه د ښار سهیلي خواته په پنځه کیلومتری کي پروت دی، زیږیدلی دی. پلاریی متنفذ، متدین او مځکوال و، د امانیه دوري د پغمان په لویه جرگه کي د کندهار د ښار لخوا د وکیل په توگه وټاکل سو. آغا محمد شپږ کلن ؤ چی د خپلي عمه سره له کندهاره کابل ته راوستل سو او د نأیب سالار مهر دل خان بارکزی په سر پرستی د نجات په لیسه کي شامل سو، او ورسته د خیل اکا حاجی خیر محمد خان پوپلزی چی په هغه وخت کي د سنا معین ؤ په (بابای خودی) کي ژوند کاوه.
د شهید محمد نادر شاه تر وژلو ورسته، محمد هاشم خان صدراعظم هر کال د نجات د لیسی ښځه لایق او زیرک شاگردان ایستل، چی یو له هغو شاگردانو ښځه آغا محمد ؤ، د بکلوریا دوری زده کری یی په یوولسم ټولگی کي نیمگړي پاتی سوی، د ځلمیتوب ښځه د ادب او لیک خاوند ؤ، د نهم ټولگی ښځه یی د(کرزي) په نامه د کابل په اخبارو مقالی خپریدلی، لومړی مقاله یی د افلاطون په باره کي وه. نوموړی سم دلاسه کندهار ته ولاړ او په یو لړرسمی او غیر رسمي چارویی پیل وکړ لکه: تعاونی ډیپو احصائیه او هم یی د مطبوعات سره قلمی همکاری درلوده.
د هاشم خان تر استیعفا وروسته د شاه محمود خان د صدارت وار راغی، په دغه وخت کي د دموکراسی انگازی په هیواد کي خپري سوې. ملت یو دموکراټ صدر اعظم وباله، د ویښ زلمیانو د گوند د جوړښت د مخه په کندهار کي منور او روښان فکره ځوانان ستوالی درلود، نو ژر تر ژره په کندهار کي د ویښ ځلمیانو تحریک (۱۳۲۵ه ش) جوړ او په خپل فعالیت او سیاسي کار یی پیل وکړ. په حقیقت کي د ویښ ځلمیانو تحریک او نهضت یو ؤلسي خوځښت ؤ چی د دموکراتیکو آزادیو د لاس ته راوړلو له کبله د هیواد منورینو ځلمیانو رامینځ ته کړ.
په دغه وخت کي چي گوند مینځ ته راځي په کندهار کي ملی او ؤلسي روښان فکرانو، ځوانانو کار کړی ؤ، لومړی پوړ مشران وه او دوهم پوړ نسبتاً ځوانان او د فعالیت ونډه یی زیاته وه او د کشرانو په ردیف کي شامل وه، چی یو هم د سمسور او شین کرز اوسیدونکي لیکوال او ادیب آغا محمد ؤ چي لومړي ځل د کندهار په روښان فکری، ادب او لیکوالی کي یو روښانه ستوری وځلید. ده به د خپل فعالیت او تبلیغ په برخه کي کله کله د لیکوالو او شاعرانو غونډي جوړولي او د گوند کړنلاره (مرامنامه) یی تشریح کوله، دوي به اکثره گوندي پریکړي په کورو کي کولی او دوهم پوړ ځلمیانو ته یی اوامر صادرول او دوی به د پریکړو په لار ښوونه فعالیت کاوه.
د ویښ ځلمیانو نشریه د(انگار) اخبار ؤ، چی اروا ښاد فیض محمد انگار په خپله ځانگړی پانگه خپراوه، د ویښ ځلمیانو د اندونو استاذیتوب یی کاوه، دغه اخبار په ۱۳۲۹ ه. ش کال کي په خپرونو پیل وکړ او ۱۳۳۰ کال کي مصادره سو.
کندهاري ویښ ځلمیانو په ناستون(مجلس) کي پریکړه وکړه چی کرزي دي د انگار سره مرسته وکړی. نو هغه ؤ چي دی کابل ته راغی او د اخبار په نشر، ویش او ترتیب کي یی مرسته کوله، کوم وخت چی اخبار د کورنیو چارو وزارت له خوا مصادره سو د ده کتابونه، د خوب بستره او گستنر یو ځای پولیسو یوورل.
د ویښ ځلمیانو موخه او مرام د یوه ملی ښوونځی پرانیستل هم ؤ، نوموړي چمتو ؤ چی د ښوونځی د ښوونکي دنده په رضا کارانه توگه په غاړه واخلي، پاته دي نه وي چه ویښ ځلمیانو پښتونستان هم تائیدا وه ځکه په خپله ویښ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

ځلمیان سوچه افغانان وه د دوی په اند پښتونستان یی د پښتنو حق باله ځکه دوی معتقد وه چې د پښتنو دغه سپېڅلی مرام باید د پښتني ؤلس په سوله ییزه مبارزه کې تر لاسه سي. نو د دی موضوع په اړوند د ښار مخورو او منورینو د ښاروالی په تالار کې پرتمینه ِغونډه جوړه کړی وه. کرزي د ویښ ځلمیانو په استازیتوب جذابه وینا وکړه. نوموړی د دغه وینا څخه وروسته د کندهار په ټولنه کې د (کرزی) په نوم زیات شهرت وموند.
په ۱۳۳۱ شمسی کال کې حکومت ویښ ځلمیان بندیان کړل، لومړی ډله د کابل په دهمزنګ کې او څو کسان یی د کندهار په فرقه کې بندیان کړل. په دغه مهال کې د کندهار نایب الحکومه عبدالغنی خان قلعه بیګی ګردیزی ؤ، چې د ځلمیانو څخه یی بد راتله، د ده په امر دوه عسکر د کرزی د نیولو لپاره کرز ته راغلل مګر د ده مشرورور حاکم خدایدادخان کرزي خپل وروړزر تر ژره کابل ته ولیږی ځکه ده عسکری نه وه کړی، شاقه هم ؤ، نوسم دستي یي د کابل د سیاه سنګ په غنډ کې دوه کاله د عسکری مکلفیت تیرکړ. نو په همدی توګه د حکومت له نظر څخه نیهام سؤ د بندیتوب څخه یی خلاصون وموند.
اروابناد محمد عالم بځرګی په خپل کتاب (ویښ ځلمیانو) کي کاږي: د اساسی قانون د۳۲مادي په استناد د کندهار منور ځوانان د لمړی ځل لپاره د ټولنیزو ګټو په خاطر د ښاغلی آغا محمد خان کرزی کور کي یوه غونډه کوي، البته په وروستنیو کلنو کي دا ټولنه د ثور پر ۲۰ /۱۳۴۴ش جوړه سوه.لوستونکي دي د کرزی د ګوندی فعالیتونو په باره کي د بځر کي صاحب کتاب وګوري.
اروا ښاد غبار په خپل دویم ټوک کتاب کی (افغانستان در مسیر تاریخ) د ویښ ځلمیانو د مؤسسینو په ډله کی د آقا محمد کرزي نوم یاد کړی دی.

## د ماموریت پیل:

اروابناد د ترخیص د اخیستلو وروسته په پښتو ټولنه کي د مسلکي غړي په توګه رسمي دنده پیل کړه. څو میاشتي یی هوری د ادبیاتواو ژبی په څانګه کي کار وکړ، په دغه وخت کي د مطبوعاتو مستقل رئیس اروا ښاد سید قاسم رشتیا ؤ. رشتیا د ده دوست او آشنا یی ؤ، په ۱۳۳۳کال یی د کندهار د مطبوعاتو د مرستیال په توګه مقررکړ، په ۱۳۳۷کال د ګرشک د اعلی حکومت د مطبوعاتو مدیر او د هلمند د جریدی چلوونکي وټاکل سؤ. څو میاشتي د نهر سراج سر پرست ولسوال ؤ، همدا رنګه د هلمند د ولسوالیو دغنمو د ویش د کمیټي رئیس هم ؤ، د اکابرو کورس ته یی لیکل او لوستل هم ورزده کول .دغه خبره هم د یادولو وړ ده چې نوموړی د ښځو په لوڅ مخی او نهضت کي د یو مترقی او روښان فکر لیکوال په توګه فعاله ونډه اخیستي او تل به یی تبلیغات کول، په ۱۳۳۷ کال په طلوع افغان کي د نهضت پیلامه او د الجزایرقربانی تر سر لیک لاندی په زړه پوری مقالي وکښلي چه د کندهار ښاریانو یی تود هرکلی وکړ، د ښځو د نهضت له پروګرام سره یی پوره همنوایی درلوده.
په ۱۳۳۹کال په کندهار کي د مطبوعاتو عمومی مدیر او د طلوع افغان د ورځپاڼی او د کندهار مجلی مسوول چلوونکي و. دا ټولو ته جوته ده چې د ده د مطبوعاتو دوره یوه مترقی او ځلانده دوره وه، د کندهار د مطبوعاتو او صحافت په تاریخ کي ځانګړی ځای لري. هره ورځ یی پر ورځینو مسایلو سر مقالي کښله، حتی کله کله یی په زړورتوب په طلوع افغان کي پر حکومتي چاروا کو او اداری فساد نیوکېزی (انتقادی) مقالي کښلي او په هره مقاله او غونډه کي یی خائین ،خیانت، ارتجاع او استبداد په زغرده غندی، د کندهار خلک یی په تیره بیا د معارف شاګردان لیکوالی ته هڅول، ځنی وختونویی په مطبوعاتو کي مشاعره جوړوله نو په همدی لامل حکومت په مطبوعاتو او تبلیغاتو کي د ده په سته والی خوښ نه وو (تاسی کولای سی چی د طلوع افغان ارشیف مطالعه کړي.)
کرزي تل د کندهار په تاریخی، ملی او رسمی ورځو کي پر ستیج باندی ؤلس او خلکو ته ویناوي او تقریرونه کول. همدا شان د پښتونستان د جشن په ورځو کي په کندهار او کابل کي په ډېرو جذباتو شعرونه ویل ، د کندهار په حکومتی هوټل کي د پښتونستان د جشن په ورځ د باندنیو چارو وزارت ،دیپلومات اروابناد نادر جان ایوبی راته وویل: «نن کرزی صاحب شهرنو ولړزاوه» په دغه ناسته کي استاد انور نومیالی هم وویل: «کرزی صاحب چي پر خبرو راسي ښه وینا کوی. ۱۳۴۷.»
په ۱۳۴۱ ش کال کي کوم وخت چي عبوری حکومت منځ ته راغی، داکتر یوسف خان صدراعظم کندهار ته تشریف راوړ د ښاروال لخوا د ارغنداب د مرنجان د سردی په باغ کي میلمستیا ترتیب سوئ وه ،اروابناد کرزي د کندهار په استازیتوب وینا وکړه .ده وویل: «موږ متوازن معارف غواړو»چې په پایله کي دوه تحصیلي بورسونه کندهار ته ورکړه سوه او څه موده ورسته په کندهار کي ښوونتون (دارالمعلمین) وپرانستیل سؤ.صدراعظم ، کرزی پر مخ مچ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

کړاو وي ويل چي: «ما فکر نه کاوه چی په کندهار کي به دغسي زبده تعليم يافته شخصيتونه وي» بيايی ده ته د ولايت مقام وړانديزوکړ خو ده ونه منل.
په ۱۳۴۲کال کي د احمد شاه بابا په ليسه کي د ښوونکي د ورځي په مناسبت وينا وکړه، د پوهني مدير عبدالغفور وياند ورته وويل: ټول ويندويان دي مات کړل. په ۱۳۴۳ کال کي د کندهار ؤلس او مامورين د نوی اساسی قانون د تشريح په مناسبت د جشن په سيمه کي راغونډ سوی وه، کرزی د اساسی قانون په باره کي وينا وکړه. اروا ښاد انګار په غيرکي ونيو او وی ويل: بيشکه چي ويښ ځلمی يی وياړدي پرتا وي، او بيايی دکندهار په مجله کي (دقانون احترام) تر سر ليک لاندی اوږده مقاله وکښله. په ۱۳۵۲ کال د کابل د شهرنو په پارک کي ښاغلی ځلمی بارک راته وويل :د هرات د دولسم ټولګی شاګردان او ښوونکي کندهار ته په سير علمی راغلی وه ، کرزي د مطبوعاتو په کتابتون کي په فردوسی فارسی وينا وکړه .مدام يي وينا او خِطابه بيله ليک او کاغذ څخه کوله، د وينا مطلب يی روښانه بيانول، د وينا کولو پر وخت يي متانت، خونسردی او پراخه سينه درلوده خو کله کله شور او احساسات هم په ګډ وه.
بله سوکالو(موضوع) چی د يادولو وړ ده هغه دا ده چی اروابناد په ۱۳۴۴ د ولسي جرګي لپاره په ارغسان کي ځان نوماند(کانديد) کړی وه د نوماندانو لست او نومونه کابل ته ليږل سوی وو څو مطلوب او نا مطلوب کسان سره چاڼ کړی. د ټا کنوڅخه دوي مياشتی وروسته د کندهار والی محمد صديق خان وويل: حکومت نه غوښتل چي آغا محمد کرزي وکېل سې ځکه دی د ويښ ځلميانو سياسي سابقه لري. د جشن وخت و،ده غوښتل چی د محصلينو په کمپ کي وينا وکړی مګر حکومتی چارواکو د وينا اجازه ور نکړه نوموړی د محصلينو څخه وغوښتل چی زه ستيج ته درځم خبری کوم، د محصلينو په هرکلي سره يی جذابه او انقلابی وينا وکړه.د وينا مهم ټکي امانيه دوره، او د مشروطه غوښتونکو مبارزه او د دوی سربښندنی وي، بيا محصلينو دی پر اوږو واخيست، ښايی دغه وينا او دغه شپه به د ځينو کسانو په ياد وي له دغه وينا څخه وروسته اووه مياشتي په کور کي ناست وو.
وريسی په دی لړکي کله چي شهيد محمد هاشم ميوند وال صدراعظم سؤ، مترقی دموکرات جمعيت او ويښ ځلميانو أيتلاف وکړ. ميوند وال ده ته په کابل کي د مقام وړانديز وکړ خو ده بياهم و نه منل، مګر د کندهار د قبايلو د لوی مدير په توګه مقرر سؤ. په ۱۳۴۷ کال اروابناد پوهاند رشاد کندهارته تشريف راوړی و. دغه ناستون زموږ په کور کي جور سوی وو، کرزي د خپلو دلايلو په ويلو سره د څو کندهاری ملګرو سره يو ځای د دغه ائيتلاف يعنی (مساوات) څخه ووت.په ۱۳۴۸ کال په کابل کي د قبايلو مستقل رياست د تبليغاتو عمومی مدير سؤ چی د نورو خپرونو او فرهنګي چاروپه اړخ کي يی هر کال د(خپلواکی ترون) په نامه کتاب تأليف کاوه .
اروا ښاد يوسف ويران د کندهار په مجله کي کاږي:
اغا محمد کرزی که څه هم شاعر نه دی ليکن شاعرانه او عشقی تابلوګاني ترسيم او ليکلای سي، دشاعرانو ډير آ ثار او نازک خيالونه يي په ياد دي چی د دوستانو او آشنايانو په محفل کي يی په يو عالم مستی او جذباتوسره وايي. د ده داستوګنی ځای (کرز) دی چي هلته به طبعاً د کليوالو، بزګرانو او باغوانانو سره محشوراو بيايی ښاری ژوند او د ولس د هر پوړ سره اړيکي اوشناخت لري. نو دا ويلاي سؤ چی کرزي په دي قوم کي د هر چا په ژبه پوهيږي او هم د هر چا په طبيعت او سويي سره سم په مجلس بلد دی. ټولنيز ژوند او د خلکو مناسباتو ته په ډيره زيرکي ګوري او ورته حساس دی . ښي او بدي خواوي يي تل تر تأثير لاندی نيسی او په پايله کي په لږ وخت کي د خوښی او خفقان هيښمی پر راځی .خندايی هميشه په صحبت ګډه ده، نوګواکي يو خوش صحبته سړی دی . په عين حال کي ډير موقر، سورو سپين اوسنګين ځوان دی کله چی څوک ورسره وپيژنی نو هغه به دا خبره ډير ژر درک کړی چی کرزی يو قدر دان، دردمند او د وطن پر هرڅه مين شخصيت دی.
ډاکترسيد خليل هاشميان په آيينه افغانستان مجله کي کاږي :
«اروابناد کرزی په خپلو ويناو او خبرو کي د مليګرايی اصولو څخه کار اخيست او په مجلسونو کي يی تل بحثونه او خبری يی د وطن پالنی پر پرنسيپونو ولاړی وي. خپلی ويناوی يی د شعرونو په ويلو پيل کولې، بليغ نطاق او اديب و، نوموړی تل علمی، تاريخی ، ادبی او فلسفی آثار لوستل، د افغانستان په تاريخ، فرهنګ، ادب، انسابو او د پښتو ادبياتو په تاريخ کي يی مطالعه درلوده. او هم په هندوستان کي يی د پښتنو د بادشاهی او فرهنګی غنا په باره کي په زړه پوری معلومات درلودل. مغزيی د عربي، فارسي او پښتو لغتونو قاموس وو. په ليکنو کې يی الفاظ مرتب او سره اوډل، نثريی سلاست او خوږتوب درلود او پښتو بوب (سوچه) کلمات يی کښل. د خپلي مورنۍ ژبي پښتو سربيره يی دری، عربی او المانی ژبي زده وي.»
کرزي په شاهی رژيم کي د پوهنی وزير ډاکتر علی احمد خان پوپل ته د کندهار لپاره د پوهنتون وړانديزکړی دي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

حتی د ؤلسي جرگي کندهاری وکیلانو ته یې وویل: تاسی سلطنتي مقام ته د پوهنتون وړاندیز وکړي.نوموړی د لومړی مشروطي د زړور او فعال غړي بابا عبدالعزیز خان الکوزی د افکارو نغوړونکي (پیرو) و. دده د افکارو او معلوماتو څخه یې په خپلو مقالو او ویناو کي استفاده کوله. ده به د مطبوعاتو په کتابتون کي دغیرت چغه ورته لوستله بابا جان به ژړل.۱۳۴۱ش نوموړی پر افغانستان مین وو، تل به یې دغه بیتونه له ځانه سره زمزمه کول.

هغه زړونه چي مین سي په عالم کي | د هغو رنګونه سره لکه غاټول دي
هرگز نمیرد آنکه دلش زنده شد به عشق | ثبت است در جریده ای عالم دوام ما

په ۱۳۵۷ کال کرزی د سرحداتو د وزارت د اداری رئیس او سر پرست معین په توګه رسمي ماموریت درلود مګر د حفیظ الله امین په واک کي یي رسمی دنده پرینبوده او په کور کي کښیناست. خو کله چي روسانو پر افغانستان یرغل وکړ د سرحداتو وزیر فیض محمد له ده څخه وغوښتل چه د وزارت د مشاور په توګه همکاری وکړی، کرزی په غبرګون کي ورته وویل: «تر څو چي د روسانو سور لښکر په افغانستان کي وي یوه امضأ هم نه کوم، څو ورځ په ورځ د هیواد اوضاع او حالات مخ پر ورانښت او خرپړتیاوه. تیاند د کندهار له لاری پاکستان ته کډوال سوو او هوری یي د افغانانو په غونډو کي ګډون کاوه. د کوټيي په شال دره کي یوه دوست راته وویل: په کویته کي کرزی یوازني مهاجر دی چي راشن نه لری، ده به ویل: «ماته دا ننګ او عار دی چي زه پنجابیانو ته د راشن لپاره کچکول په لاس ودریږم.»
۱۹۸۴ میلادی کال امریکا ته کډوال سوو او د نیویارک څخه کلفورنیا ته ولاړ او هوری یي د خپلو مهاجرو هیواد والو او ملی ګرایانو سره په سیاسي، کلتوری، او ټولنیزو فعالیتونو پیل وکړ. په خیاباني لاریون، میټنګونو او کنفرانسونو کي یي ګډون کاوه او وینا وی یی کولي. د افغانستان د ملی وحدت غورځنګ په تأسیس کي د نوښتګر په توګه فعاله ونډه درلوده، چي بیا د مؤسسانو د ټولتون (مجمع) لخوا په ټاکنو کي د دغه غورځنګ د دارالانشاء او سیاسی کمیټي په غړیتوب هم ومنل سو، د کانکورد په ښار کي د رادیو وطن مؤسس هم و.
ښاغلی سراج وهاج (شاهین) د ملی وحدت په اخبار کي کاږي:
«د هیواد د ملی شخصیت آغا محمد کرزي مړینه د دوستانو او مطبوعاتیانو دعلمی او سیاسی ډلو د ویر او خواشني سبب وګرځید. کرزی د یوه هیواد پال عالم په توګه د هیواد سرلوړي او پرمختګونه تل د ده تر نظر لاندی وه، په اکثرو ملی اوسیاسی نهضتونوکي فعاله ونډه درلوده. په هر ناستون کي یی ناست کسان په خوږو او جذابو خبرو راجلبول.»
اروانباد سربیره پر دغه چي د ویاړه ډکه مطبوعاتی سابقه درلوده، د هیواد پیاوړی عالم او د نامتو شخصیتونو څخه شمیرل کېدی. د مهرباني، قدرداني او د خلکو سره د ښه چلند له کبله توانیدلی و چي افغان روښان فکره په خپل ځان را ټول کړی.
په پردیسی کي یي هم د وطن پرالمیو(غمیزو) ژړل، او د ژوند تر پایه د افغانستان د مسایلو په اړوند په غونډو کي برخمن وو او په دی توګه یی خپل د وطن درد، خواخوږي او درناوی خپلو خلګو ته وړاندي کاوه.
وفا جریده د پیښور خپرونه کاږي:
کرزی د ملی او مترقی اندود (تفکر) خاوند و، له وطني او ملي مسایلو سره یی مینه درلوده او په هیواد کي یي روان غورځنګونه په ښوب او علاقه څارل. د ځوانو لیکوالو او شاعرانو یو ښه هڅونکي وو، له افغان ځوانانو به چي د چا کتاب چاپ سو او یا به یي ښه مقاله لیکلي وه، کله چي به کرزی ولید نوبه یی شاباسي ورته وایه او په نرمو او پستو خبرو به یی نورکار او د فرهنګ چوپړ ته هڅاوه.
کرزی له خپلو همزولو او له ځان مشرانو، فرهنګیانو، شاعرانو او لیکوالو ته په درنه سترګه کتل او درناوی به یی ورته کاوه، نوموړی په هیواد کي د پوهني د متوازني پر مختیا او پراختیا ډیر لیوال وو، د ښځو د حقوقو او په ټولنه کي د هغوي د فعالانه ونډي اخیستلو ټنګ ملاتړی وو، ده ښوونه او روزنه ،فرهنګ او تمدن د افغانی ټولني د پر مختیا لپاره اړین او مهم بلل.
آغا محمد د افغاني ټولني د پوهنوالو، لیکوالو، شاعرانو او روښان فکرانو سره دوستی او راشه درشه در لوده، لوی استاد علامه حبیبی کندهار ته تشریف راوړی وو، کرزی په کور کي میلمستیا کړی وه ،علامه ده ته وویل چي: هره ورځ طلوع افغان ته سرمقاله لیکي، ستا د مغزچینی لانه دي وچي سوی.
د ماموریت په دیرش کلنه موده کي یی چلښت او کوزاره د خپلو مامورینو او همکارانو سره شریفانه وه، صادق او پاک نفس مامور و،د لویو آمرانو سره یي په زغمنه کار کاوه، دهیچا څخه یی اسره (طمع) نه درلوده، په تنګسه کي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

یی تاب درلود. د کندهار په مطبوعاتو کي يي مستعار نوم (ارمانجن) وو.د لیږد (هجرت)د مخه یی عزم کړی و چی «پښتانه د تاریخ په اوږدو کي» تر سرلیک لاندی کتاب وکاږي، په دغه باره کي یی د خپل ادیب او شاعر ملګری فاضل خادم سره خبري کړی وی له بده شامته د روسانو یلغار اوناورین راغی.
په ۲۰۱۲کال کي له کانادا څخه د شهید میرزا مهدی خان زوی لیکوال او مبارز ارواښاد آصف آهنګ په تلفن کي راته وویل:
«هغه وخت چی کرزي د انګار د اخبار سره کومک کاوه، په کابل کي زموږ په سیاسی او ادبی مجلسونو کي یو روښان فکر، پیاوړی لیکوال او ښکلي ځوان وو. په ښو دری ادبیاتو، به یی خبری پیل کړی.» نوموړی زیاته کړه، آغا محمد جان د ارواښاد داکتر عبدالرحمان محمودی ټینګ سیاسي ملګری وو. نوموړی دامریکا دکلیفورنیا په کانکورد ښار کي د(۷۷) کالو په منګ (عمر) د ګوزڼ په نا روغی ومړ او هوری ښخ سو.(۱۳۷۷ش—۱۹۹۹م)
ارمانجن به همیشه د حال په ژبه د ضمیر آواز داسی اوڅار کاوه.

بهار بود و توبودی وعشق بود و امید          بهاررفت وتورفتی وهر چه بود گذشت

خدایه څه سول هغه ښکلی ښکلی خلک
په ظاهر په باطن سپین سپیڅلي خلک
هیڅ خندا مي د دی خلکو سره نه سي
ژړوي مي هغه تللي تللي خلک
خبر نه یم چی وکومي خوا ته لاړل
لیده نه سي هغه ما لیدلي خلک

(رحمان بابا)

دشیرازه او سوکاله هیواد په هیله

په درنښت ځلمی کرزی

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ